مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۰۹** (از ٦ الی ۱۳ جوزا ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د افغانستان د هوايي حريم ساتنه او شته ستونزې**

په افغانستان کې د هوا ساتنه ........ ۴

د افغانستان ملکي او نظامي هوايي چلند ........ ۴

آيا زموږ هوايي حريم خوندي دی؟ ........ ۵

**معارف افغانستان در کشاکش حکومت و طالبان**

معارف افغانستان پس از ۱۳۸۰ هـ ش ........ ۹

حکومت وحدت ملی و معارف افغانستان ........ ۱۰

وضعیت معارف در ساحات تحت کنترول طالبان ........ ۱۱

## مقدمه

ځو ورځې وړاندې له غزني ولایت څخه خبر ورکړل شو، چې ناپېژاندو چورلکو د دغه ولایت په واغظ ولسوالۍ کې د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه کې ناسته کړې ده. له دې وړاندې د جوزجان ولایت سیمه‌ییزو چارواکو هم خبر ورکړی و، چې د دغه ولایت د قوش‌تپې او درزاب ولسوالیو په هغو سیمو کې چې د داعش تر ولکې لاندې دي، د یوې الوتکې له لوري بند صندوقونه غورځول شوي دي. د سرپل ولایت چارواکو هم تر دې پېښې ځو ورځې وړاندې خبر ور کړی و، چې نا پېژاندو چورلکو د شپې له‌خوا د دغه ولایت د صیاد ولسوالۍ په هغه سیمه کې ناسته کړې چې د طالب جنګیالیو په ولکه کې ده. په بل اړخ کې بیا له بدخشان ولایت څخه د افغانستان په خاوره د روسي جټ الوتکو د پروازونو او د افغانستان د هوایي حریم ماتولو خبر ورکړل شوی دی.

په ۲۰۰۹ کال کې پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د هېواد شمال ته شکمنو چورلکو له لارې د وسله‌والو د لېږد خبره کړې وه؛ خو په ټولیز ډول د افغانستان د هوایي حریم ساتنه هغه مهمه موضوع ده چې افغان حکومت په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د نړیوالې ټولنې د لسګونه میلیارده ډالرو مرستو له راتګ سره سره ونه توانېد په دې برخه کې اساسي رول ولري او لاهم د هوایي چلند چارې د بهرنیانو په ولکه کې دي. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې د افغانستان د هوایي حریم د ساتنې پر موضوع شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د ښوونې او روزنې پر ډګر د حکومت او طالبانو د هم‌مهاله مدیریت له کبله د رامنځته شوو ستونزو په اړه لولئ. سره له دې چې په تېره څه باندې یوه‌نیمه لسیزه کې افغانستان د پوهنې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، خو لاهم دا برخه له پراخو ستونزو او ننګونو سره مخ ده. په دې وروستیو کې په هغو سیمو کې چې د وسله‌والو طالبانو تر ولکې لاندې دي، نوې ستونزې راټوکېدلې دي چې له کبله یې د ځینو سیمو ښوونځي د بندېدو له ګواښ سره مخ دي. دا چې د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې د ښوونې او روزنې د بهیر وضعیت څخه دی، د نورو مسائلو ترڅنګ یې د تحلیل په دویمه برخه کې په اړه لولئ.

# د افغانستان د هوايي حريم ساتنه او شته ستونزې




څو ورځې وړاندې روسي الوتکو په بدخشان شمالي ولايت کې د افغانستان هوايي حريم مات کړ. د دې ترڅنګ د هېواد بېلابېلو رسنيو د يو شمېر لوړپوړو چارواکو له خولې داسې رپوټونه هم خپاره کړل، چې د شمال په يو شمېر ولايتونو کې ناپېژاندې الوتکې ناستې دي او ناپېژاندو وسله‌والو ته يې وسلې ورکړې دي. خو افغانستان د نړيوالې ټولنې له ميلياردونو ډالرو مرستو سره سره، د هوايي حريم د ساتنې په برخه کې له پراخو ستونزو سره مخ دی.

د افغانستان د هوايي حريم ساتنه؛ هغه هم داسې مهال يوه ستره ننګونه بللی شو، چې د هېواد په زړه کابل کې او ولسمشرۍ ماڼۍ ته نږدې خونړۍ چاودنې کېږي. د کابل (زنبق څلورلارې او وزير اکبرخان مېنې ترمنځ) ديپلوماتيکه سيمه کې د تېرې اوونۍ خونړۍ چاودنه يې وروستۍ بېلګه ده، چې له ۸۰ زياتو بې‌ګناه ملکي وګړو خپل ژوند پکې له لاسه ورکړ او شاوخوا ۳۵۰ نور ټپيان شول.

دا چې په افغانستان کې د هوايي حريم ساتنه د چا دنده ده، په افغانستان کې د هوا ساتنه څرنګه کېږي، آيا زموږ هوايي حريم خوندي دی؛ او په دې لړ کې له کومو ستونزو سره مخ يو؟ دا او دې ته ورته پوښتنې مو دلته ځواب کړې دي.

## په افغانستان کې د هوا ساتنه

د افغانستان د هوا ساتنه په دوو برخو کې کېږي؛ لومړی د افغانستان ملکي هوايي چلند او دویم نظامي هوايي چلند دی. په هېواد کې دریو لسیزو جګړو او ناامنیو دغه دوې برخې ډېرې اغېزمنې کړې.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، امریکایي او ناټو ځواکونو د نورو ډګرونو په څېر د افغانستان د هوايي حریم کنټرول هم په خپل لاس کې واخیست او دوی بیا د هوايي حریم مدیریت اړوند چارې د یوه تړون له مخې، یوې نړیوالې کمپنۍ ته وسپارلې[1]. د دې ترڅنګ نظامي هوايي چلند هم د دوی په لاس کې و.

افغان پارلمان، «د افغانستان د ملي هوايي چلند قانون» د ۱۳۹۱ کال د سنبلې په ۲۸مه تصویب او بیا پخواني ولسمشر حامد کرزي د ۱۳۹۱ کال د لړم په ۸مه نېټه توشیح کړ. د همدغه قانون له مخې په هېواد کې د ملکي هوايي چلند اداره رامنځته شوه. په بل اړخ کې په رسمي توګه د هوايي حریم خونديوالی د افغانستان د ملي دفاع وزارت دنده ده.

د اهمیت له پلوه، د افغانستان پر هوايي حریم د تېرې او ماتولو د مخنیوي ترڅنګ، د ملکي هوايي چلند خپلواکې ادارې د معلوماتو له مخې، د افغانستان پر هوايي حریم هره ورځ کابو ۴۰۰ پروازونه تېرېږي او افغانستان پر هر پرواز ۵۰۰ ډالر حق العبور اخلي، چې د کال تر ۵۰ ملیون ډالره زیات عاید کېږي.[2]

## د افغانستان ملکي او نظامي هوايي چلند

د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره وروسته له هغه رامنځته شوه، چې کله له ۲۰۰۹ کال وروسته د امریکا او افغان حکومت د تګلارو له مخې، په تدریجي توګه په یو شمېر برخو کې ډېری مسؤولیت له بهرنیانو څخه افغان لوري ته سپارل کېده او له مخې یې باید د ۲۰۱۴ کال تر پایه افغانستان ته د فضايي حریم د تنظیم مهارتونه او کنټرول هم انتقال شوي وی. خو د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکا د سرمفتش اداره (سیګار) او د اداري فساد پرضد د مبارزې د څارنې او ارزونې د خپلواکې او ګډې کمېټې د راپورونو له مخې، له ۲۰۰۲ کال راهیسې د ۲۰۱۴ کال تر پایه امریکایي بنسټونو په ټولیز ډول تقریباً ٥٦٢,٢ میلیون ډالره په افغانستان کې د

[1] د نورو معلوماتو لپاره، د اداري فساد پرضد مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې کمېټې څېړنه، په لاندې لینک کې:
http://www.mec.af/files/2016_06_14_ACAA_Paper_(Pashto).pdf

[2] نور معلومات په لاندېني راپور کې ولولئ:
http://www.ufuqnews.com/archives/12434

ملکي هوايي چلند پر اړوندو فعالیتونو لګولي[3]؛ مګر بیا هم امریکا ونه شو کړای چې له ژمنې سره سم د افغانستان د ملکي هوايي چلند پرسونل، په تېره بیا د هوايي ترافیک کنټرولوونکي د ۲۰۱۴ کال تر پایه وروزي[4]. دلچسپه دا ده، چې د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري هم د سیګار دغه راپور ومانه[5].

په بل اړخ کې، په نظامي توګه د هېواد د هوايي چلند نظام تر ډېره د امریکایانو په لاس کې دی. له همدې ځایه ده، چې د مشرانو جرګې یو شمېر غړو هم تېره اوونۍ وویل، د افغانستان هوايي حریم د امریکا په واک کې دی[6]. دغه راز په هوايي چارو کې د افغانستان د لوی درستیز مرستیال هم یو کال وړاندې د فضايي حریم د کنټرول په برخه کې وویل چې تراوسه هېڅ عملي اقدام نه دی شوی او افغان حکومت یوازې د پروازونو ښکته او پورته کېدل اداره کوي[7].

## آیا زموږ هوايي حریم خوندي دی؟

که څه هم افغان حکومت په ۱۳۹۲ کال کې ویلي وو، چې په دوو کلونو کې به د هوايي حریم کنټرول په بشپړه توګه په خپل واک کې واخلي[8]؛ خو لا تر اوسه افغان حکومت په دې نه دی توانېدلی. د ملي یووالي حکومت پرمهال هم د اشرف غني تر مشرۍ لاندې په ملي امنیت شورا کې د فضايي حریم د کنټرول په تړاو بحثونه وشول او په دې تړاو د یوه کمیسیون د جوړېدو غوښتنه هم وشوه[9].

---

[3] د سیګار او «ګډې کمېټې» د راپورونو لپاره لاندې لینکونو ته مراجعه وکړئ:
https://www.sigar.mil/pdf/audits/SIGAR-15-58-AR.pdf
http://www.mec.af/files/2016_06_14_ACAA_Paper_(Pashto).pdf

[4] ازادي راډیو، «ولې امریکا ونشو کړای د افغانستان هوايي حریم افغانانو ته وسپاري؟» ۱۳۹۴ ثور ۲۶مه:
https://pa.azadiradio.com/a/27019515.html

[5] آزادي راديو، «اداره مستقل هوانوردی افغانستان گزارش سیگار را تایید کرد»، ۱۳۹۴ ثور ۲۶مه:
https://da.azadiradio.com/a/27020275.html

[6] ویسا ورځپاڼه، «افغان حکومت دې مخالفینو ته د الوتکو ښکته کېدو په اړه وضاحت ورکړي»، ۱۳۹٦ جوزا ۹مه:
http://www.dailyweesa.com/?p=14305

[7] آریانا نیوز، «کنترول حریم فضایی افغانستان در دست حکومت نیست»، ۲۰۱۵ دسامبر ٦مه:
http://ariananews.af/%DA%A9%D9%86%D8%AA%D8%B1%D9%88%D9%84-%D8%AD%D8%B1%DB%8C%D9%85-%D9%81%D8%B6%D8%A7%DB%8C%DB%8C-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D8%AF%D8%B3%D8%AA-%D8%AD%DA%A9%D9%88/?lang=fa

[8] افغانستان ورځپاڼه، «نجفی: کنترول کامل حریم هوایی افغانستان را تا کمتر از دو سال در اختیار می‌گیریم »، ۱۳۹۲ اسد ۲۶مه:
http://www.dailyafghanistan.com/national_detail.php?post_id=128421

[9] تلویزیون چکاد، «غنی: باید حریم هوایی ما کنترول شود»، ۱۳۹۵ میزان ۷مه:

د افغانستان د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزير د معلوماتو له مخې، تر ۱۳۹۴ لمريز کال پورې، په هېواد کې د فضايي حريم د کنټرول په موخه ۷۰ متخصصينو ته اړتيا وه، خو هغه مهال افغانستان يوازې ۷ داسې متخصصين لرل[10] او افغان حکومت د يوه بهرني شرکت له مرستې پرته کدري او تخنيکي ظرفيت نه لري، چې فضايي حريم کنټرول او اداره کړي. د افغان وزير په اند، دوی به شايد له ۳ څخه تر ۵ کلونو پورې وخت ته اړتيا ولري، چې له يوه بهرني شرکت پرته د افغانستان ملکي هوايي حريم کنټرول کړای شي.

که څه هم په ۱۳۹۴ کال کې د هېواد د هوايي حريم د کنټرول چارې رسما د ملکي هوايي چلند ادارې ته وسپارل شوې؛ خو هغوی بيا هم د بهرنيانو له همکارۍ پرته د دې چارې جوګه نه وو.[11] همدا لامل دی، چې له تېرو څو کلونو راهيسې افغانستان د هوايي حريم د ساتنې په برخه کې له ډېرو ننګونو سره مخ دی. دغه ننګونې تخنيکي، د وسايلو کمښت، له نورو ارګانونو سره کمه همغږي او اداري فساد دي.

له کدري ظرفيت وراخوا، په هېواد کې ځينې تخنيکي او د وسايلو نه شتون هم هغه لامل دی، چې د هوايي حريم خونديتوب يې نه دی تضمين کړی. په نظامي توګه د هوايي حريم د تضمين په تړاو اساسي کار د بهرنيو او ناپېژاندو الوتکو پېژندل او بيا د دغو الوتکو د تګ راتګ مخنيوی دی. د پېژندلو په برخه کې، هېواد پرمختللي راډار سيستم ته اړتيا لري. په همدې موخه د افغانستان د هوايي چلند د خپلواکې ادارې مسؤولينو تېره مياشت په هېواد کې د راډار سيستم د فعالولو په تړاو جرمني ته سفر وکړ[12].

د افغانستان د هوايي ځواک پخوانی مشر جنرال عبدالوهاب وردګ هم په دې اند دی، چې د ۱٦ کلونو له تېرېدو سره، هېواد لاهم هوايي دفاعي سيستم نه لري (که څه هم د ده په اند، پاليسي جوړه شوې؛ خو لا تراوسه عملي شوې نه ده)[13]. د افغانستان د لوی درستيز مرستيال جنرال مراد علي مراد هم دغه ستونزه درک

---

http://chekad.tv/%D8%BA%D9%86%DB%8C-%D8%AD%D8%B1%DB%8C%D9%85-%D9%81%D8%B6%D8%A7%DB%8C%DB%8C-%DA%A9%D9%86%D8%AA%D8%B1%D9%84-%D8%B4%D9%88%D8%AF/

[10] هشت صبح ورځپاڼه، «ناتوانی افغانستان در کنترول حريم فضايی»، ۱۳۹۴ جوزا ۲۳مه:
http://8am.af/1394/03/23/inability-to-control-the-airspace-of-afghanistan/

[11] آزادي راديو، «د هوايي حريم د کنټرول چارې د ملکي هوايي چلند ادارې ته وسپارل شوې»، ۱۳۹۴ د تلې لومړۍ نېټه:
https://pa.azadiradio.com/a/27263891.html

[12] د ملکي هوايي چلند ادارې وېبپاڼه، «سفر يک هيات عالی‌رتبه ادارۀ مستقل هوانوردی ملکی به جرمنی به منظور بحث روی فعال کردن سيستم رادار در کشور»، ۲۰۱۷ د مې دريمه:
http://acaa.gov.af/fa/news/415003

[13] راديو آزادی، «مراد: افغانستان در خصوص کنترول حريم هوايی با مشکلات مواجه است»، ۱۳۹٦ ثور ۲۳مه:
https://da.azadiradio.com/a/28486209.html

کوي، او وايي، د افغانستان د فضايي کنټرول په برخه کې ستونزې لري او په دې برخه کې خپل ډېرى معلومات د قاطع ملاتړ له ماموريت (ناټو) څخه لاس ته راوړي[14].

د هوايي حريم د کنټرول يا تضمين په برخه کې دويم ګام د ناپېژاندو/پېژاندو الوتکو مخنيوی دی. دا بيا تر ډېره پر هوايي ځواک او له «ځمکې-څخه-هوا-ويشتونکو» مېزاييلو متکي دی. افغانستان په دواړو برخو کې خورا وروسته‌پاتې دی. همدا لامل دی، چې د ولسمشر اشرف غني غوښتنه هم له د امريکا له نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ څخه همدا ده، چې د افغانستان هوايي ځواک پياوړی کړي.

خو له دې وراخوا، پوښتنه دلته زېږي، چې افغانستان د امريکا له متحده ايالاتو سره امنيتي تړون لري؛ امريکا د نړۍ په کچه د هوايي حريم د ساتنې په برخه کې تر ټولو پياوړی سيستم لري او زموږ په هېواد کې افغان حکومت ته په دې برخه کې معلومات هم ورکوي، نو ولې بيا هم افغان حکومت په دې برخه کې وروسته پاتې دی؟ ولې لا تر اوسه امريکا افغان حکومت سره په دې برخه کې همکاري نه ده کړې؟ او آيا نه غواړي، چې د هوايي حريم د کنټرول تضمين د افغان دولت په غاړه شي؟

د هوايي حريم د کنټرول تضمين ځکه هم ډېر مهم دی، چې له تېرو څو کلونو راهيسې وخت ناوخت داسې راپورونه خپرېږي، چې په هېواد کې د ناپېژاندو الوتکو له‌خوا له يو شمېر وسله‌والو مخالفينو سره پوځي مرستې کېږي. که چېرې داسې ونه شي، نو دا به روانه جګړه د افغان حکومت لپاره نوره هم پېچلې کړي.

[14] تېر ماخذ.

# معارف افغانستان در کشاکش حکومت و طالبان



معارف و تعلیم و تربیه یکی از اساسی‌ترین و حیاتی‌ترین بخش‌های زندگی بشریت بوده و نقش مهمی در روند پیشرفت جوامع بشری دارد. معارف افغانستان در طول بیش از یک‌ونیم دههٔ گذشته بدون شک پیشرفت‌های چشم‌گیری داشته، ولی هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی چون ناامنی‌ها، پایین بودن کیفیت، فساد در ادارات تعلیمی و سایر مشکلات، این عرصهٔ حیاتی را تهدید می‌کند.

سیطرهٔ همزمان حکومت و طالبان بر مکاتب و ادارات تعلیمی در مناطق تحت کنترول طالبان نیز مشکل‌آفرین شده است. مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی به معلوماتی دست یافته است که نشان می‌دهد معلمین و کارمندان مکاتب در شماری از ولایات ناامن کشور از شش ماه به این‌سو معاشات خویش را به دلیل محدودیت‌هایی که از جانب طالبان روی پروسهٔ اخذ معاشات از طریق بانک‌ها وضع شده، دریافت نکرده‌اند و به این ترتیب شمار زیادی از مکاتب با تهدید مسدود شدن مواجه شده است.

در این تحلیل بر وضعیت معارف افغانستان پس از سال ۱۳۸۰ هـ ش، چگونگی وضعیت معارف در زمان حکومت وحدت ملی، وضعیت معارف در ساحات تحت کنترول طالبان و نیز مشکل تازهٔ معلمین و کارمندان ادارات تعلیمی در برخی از ولایات ناامن کشور، پرداخته شده است.

## معارف افغانستان پس از ۱۳۸۰ هـ ش

پس از سقوط رژیم طالبان در پی حملهٔ امریکا بر افغانستان در سال ۱۳۸۰ هـ ش و با روی‌کار آمدن حکومت جدید در کشور، معارف کشور یکی از عرصه‌هایی بود که پیشرفت‌های قابل ملاحظه‌ای تاااکنون داشته است.

در سال ۱۳۸۰هـ ش در تمام افغانستان ۳۳۸۹ مکتب فعال بود. اما این رقم در سال بعدی به اضافه‌تر از ٦۰۰۰ رسید. در سال ۱۳۸۴ هـ ش تعداد مکاتب به ۸۳۹۷ باب[15]، در سال ۱۳۹۴ هـ ش به ۱۵٦۴۵ باب[16] و در سال ۱۳۹۵ هـ ش این رقم به ۱٦۰۴۹ باب مکتب در سرتاسر کشور افزایش یافت.[17] مجموع شاگردان مکاتب نیز در این سال به ۸۸٦۸۱۲۲ نفر رسید که بربنیاد آمار رسمی در مقایسه به ده سال پیش در سال ۱۳۸٦ هـ ش حدود چهار ملیون شاگرد افزایش را نشان می‌دهد، چنانچه در سال ۱۳۸٦ هـ ش تعداد شاگردان مکاتب به حدود ۴,۹ ملیون تن می‌رسید.

هرچند در طول این مدت معارف افغانستان رشد چشم‌گیری داشته، هزاران باب مکتب ایجاد شده و صدها هزار شاگرد در این مکاتب مشغول آموزش اند. ولی این روند با افزایش ناامنی‌ها در کشور با چالش‌های زیادی نیز روبه‌رو شده است. علاوه بر ناامنی‌ها موجودیت فساد اداری گسترده در کشور به ادارات تعلیمی نیز راه یافته است و در کنار سایر مشکلات کیفیت تعلیم و تربیه را پایین آورده است. از سوی دیگر، در یک‌ونیم دهۂ گذشته بیشتر روی کمیت تاکید صورت گرفت و نبود توجه لازم به کیفیت نیز مشکل‌آفرین شد. بربنیاد یک سروی مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی که در سال ۱۳۹۴ هـ ش در شهرهای بزرگ کشور از استادان پوهنتون‌ها و سایر نخبه‌ها انجام یافته است، ٦۲,۵۹ درصد آنان گفته بودند که معارف در یک‌ونیم دهۂ گذشته از لحاظ کیفی در وضعیت خراب قرار داشت.[18]

[15] «افغانستان په تېره یونیمه لسیزه کې»، گزارش تحقیقی و تحلیلی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد وضعیت یک‌ونیم دهۂ گذشته، صفحه: ۳۴۰، سال چاپ: 1395 هـ ش.

[16] سالنامهٔ احصائیوی ۱۳۹۴ هـ ش، نشر شده توسط ادارۂ مرکزی احصائیه.

[17] سالنامهٔ احصائیوی ۱۳۹۵ هـ ش، نشر شده توسط ادارۂ مرکزی احصائیه.

[18] «افغانستان په تېره یونیمه لسیزه کې»، گزارش تحقیقی و تحلیلی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد وضعیت یک‌ونیم دهۂ گذشته، صفحه: ۳٦۱، سال چاپ: 1395 هـ ش.

## حکومت وحدت ملی و معارف افغانستان

با ایجاد حکومت وحدت ملی رئیس جمهور غنی در نخستین روزهای کار خود ابراز داشت که وضعیت فعلی معارف کشور برایش قابل قبول نیست. او تعهد کرد که در بلرهٔ بلند بردن کیفیت معارف، غیرسیاسی کردن این عرصه، بهبود وضعیت معلمین و نیز مشارکت زنان در زمینه‌های استراتیژیک معارف کار خواهد کرد. اما با گذشت حدود یک‌ونیم سال، در نخستین روز سال تعلیمی ۱۳۹۵ هـ ش از همه معلمین برای عمل نکردن بر تعهدات خود معذرت‌خواهی کرد و تعهدات خود را دوباره تازه و بر عملی ساختن آن‌ها تاکید نمود.[19]

پس از گذشت سال ۱۳۹۵ هـ ش و آغاز سال ۱۳۹٦هـ ش بیشتر از یک سال دیگر نیز گذشت، ولی معارف افغانستان در کنار مشکلات سابق چون بی‌امنیتی، فساد اداری، کمبود لوازم و امکانات، نبود معلمین مسلکی و غیره با مشکلات جدیدی نیز مواجه شده است.

در بسیاری از مناطق کشور دروازه‌های صدها مکتب به روی شاگردان مسدود است. چندی قبل کمیسیون حقوق بشر افغانستان اعلام کرد که از هشت ماه به این‌سو در ولایت ارزگان از جمله ۳۱۸ مکتب در شهر و ولسوالی‌های این ولایت، تنها ۷ مکتب آن فعال است و باقی ۳۱۱ مکتب به اثر بی‌امنیتی مسدود می‌باشد.[20] غزنی، کندز، زابل، پکتیا، هلمند، نیمروز، فراه، بادغیس و ننگرهار ولایت‌های دیگری اند که به گفتهٔ مسؤولان وزارت معارف، دروازه‌های بیشتر از یک هزار مکتب در آن‌ها به روی شاگردان بسته است.[21]

مکاتب فعال نیز با مشکلات جدی چون نبود استادان مسلکی، لوازم درسی، ساختمان مکاتب و موجودیت فساد و غیره روبه‌رو است. در بسیاری موارد گزارش داده شده که عالمان دینی مضامین علوم ساینسی را تدریس می‌کنند و شاگردان از لوازم درسی مانند کتاب، کتابخانه، لابراتوار و غیره محروم اند.

سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور در مراسم آغاز سال تعلیمی ۱۳۹٦ هـ ش گفت که با وجود سرازیر شدن میلیاردها دالر به افغانستان، هنوز هم حدود ۵۰ درصد از مکاتب ما ساختمان‌های معیاری ندارند که در این زمان و شرایط برای افغانستان جای شرم است.[22]

---

[19] بی بی سی فارسی، «شروع مکاتب در افغانستان؛ غنی برای 'وعده‌های عملی نشده' پوزش خواست» ۲۲ مارچ ۲۰۱٦م، لینک گزارش:
http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/03/160322_k04_first_school_day_president_admits_failure

[20] رادیو آزادی، «حقوق‌بشر: ولایت ارزگان تنها ۷ مکتب فعال دارد» ۱۱ ثور ۱۳۹٦ هـ ش، لینک نشر:
https://da.azadiradio.com/a/28461823.html

[21] رادیو آزادی، «بیش از ۱۰۰۰مکتب در اثر نا امنی‌ها در افغانستان مسدود شدند»، ٦ عقرب ۱۳۹۵ هـ ش، آنلاین:
https://da.azadiradio.com/a/28078204.html

[22] خبرگزاری آوا، «زنگ آغاز سال تعلیمی ۹٦ توسط معاون رییس جمهور نواخته شد»، ۳ حمل ۱۳۹٦ هـ ش، به لینک ذیل مراجعه نمایید:

## وضعیت معارف در ساحات تحت کنترول طالبان

نظر به گزارش اخیر ادارۀ سیگار، دولت افغانستان تنها بر ٦٥,٦ درصد خاک کشور حاکمیت دارد و مناطق باقی‌مانده تحت کنترول مخالفین مسلح دولت می‌باشد. گروه طالبان هرچند مکاتب دخترانه را در بیشتر این ساحات مسدود ساخته اند، اما در کل به فعالیت ادارات تعلمی در مناطق تحت کنترول شان اجازه داده است و جریان تعلیم و تربیه در آن مناطق را نظارت می‌نمایند.

قبل از این، چند سال پیش مقام‌های حکومتی کاپیسا گفته بودند که در ولسوالی‌های ناامن این ولایت کمیسیونی برای نظارت مکاتب از سوی طالبان تشکیل گردیده و جریان تعلیم و تربیه را به گونۀ جدی نظارت می‌کنند.[23] طالبان در بخشی از نظارت شان بر مکاتب، تغییراتی در نصاب تعلیمی نیز وارد کردند، ولی مسؤولین معارف آن ولایت برای جلوگیری از مسدود شدن مکاتب با این کار طالبان کنار آمدند. آنزمان برخی معلمین نیز از این اقدام طالبان ابراز خرسندی کرده بودند، ولی اکنون به نظر می‌رسد که مدیریت همزمان دولت و طالبان برای جریان تعلیم و تربیه در ولایات ناامن کشور مشکلاتی را به بار آورده است.

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی به معلوماتی دست یافته است که نشان می‌دهد، طالبان در چندین ولایت (از جمله میدان وردگ، غزنی، کندز، کاپیسا، ننگرهار، کنر و غیره) در مناطق تحت کنترول آنان مکاتب را نظارت و مدیریت می‌کنند و در مواردی مدیریت و تصامیم آنان با تصامیم دولت در تصادم بوده که به دلیلش شمار زیادی از مکاتب با تهدید مسدود شدن مواجه شده است.

یکی از این مشکلات قضیۀ اخذ معاشات معلمین و کارمندان مکاتب از طریق بانک است. حکومت افغانستان از سال گذشته به این‌سو در برخی ولایات سیستم اخذ معاشات کارمندان معارف را بانکی ساخته است. پیش از این در هر مکتب از طریق یک معتمد مسؤول معاشات کارمندان همان مکتب اجراء می‌گردید. بانکی ساختن سیستم معاشات هرچند از یک‌سو در جلوگیری از فساد اقدام موثر است، ولی از سوی دیگر مشکلاتی نیز در پی داشته است. شعبات بانک‌ها در ولسوالی‌ها موجود نیست و هر معلم بخشی از معاش خویش را به رفت و آمد به کابل مصرف می‌کند.

---

http://www.avapress.com/vdcdxn0fkyt0s96.2a2y.html

[23] خبرگزاری پژواک، «کمیسیون معارف طالبان در برخی ولسوالی‌های کاپیسا ایجاد شد»، ۱۸ اکتوبر ۲۰۱۱، در لینک ذیل:
http://www.pajhwok.com/dr/2011/10/18/%DA%A9%D9%85%DB%8C%D8%B3%DB%8C%D9%88%D9%86-%D9%85%D8%B9%D8%A7%D8%B1%D9%81-%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D8%A8%D8%B1%D8%AE%DB%8C-%D9%88%D9%84%D8%B3%D9%88%D8%A7%D9%84%DB%8C%D9%87%D8%A7%DB%8C-%DA%A9%D8%A7%D9%BE%DB%8C%D8%B3%D8%A7-%D8%A7%DB%8C%D8%AC%D8%A7%D8%AF-%D8%B4%D8%AF

بانکی ساختن سیستم معاشات مشکلات جدی نیز در پی داشته و در برخی مناطق تحت کنترول طالبان تمام کارمندان معارف را از اخذ معاشات از طریق بانک منع کرده‌اند و از حدود شش ماه به این‌سو معاشات خویش را دریافت نکرده‌اند. در حالیکه شمار زیادی مکاتب در این مناطق[24] با تهدید مسدود شدن روبه‌رو شده است و سران قومی این مناطق برای حل مشکل به ارگان‌های حکومتی مراجعه نیز کرده است، ولی حکومت تاکنون در این مورد اقدامی نکرده است. بنابر معلومات به دست آمده، این معلمین تصمیم گرفته‌اند که اگر این مشکل زودتر برطرف نگردد، ناگزیر دروازه‌های مکاتب را بسته و برای امرار معاش دست به کسب دیگری بزنند.

بربنیاد معلوماتی که به مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی رسیده است، طالبان در این مناطق به گونۀ دوامدار و منظم از جریان درسی، حاضری معلمین و نیز نصاب درسی نظارت می‌کنند. به گفتۀ معلمین این مناطق، هر معلمی که در مکتب حاضر نباشد، از سوی نمایندۀ ناظر طالبان غیرحاضر محسوب می‌شود و در آخر ماه مطابق غیرحاضری‌اش کسرمعاش می‌گردد. در مورد نصاب نیز، به عنوان مثال یکی از مضامین درسی بنام "فرهنگ" که در صنوف دهم، یازدهم و دوازدهم تدریس می‌گردد و در کنار مسائل دیگر به دروسی از موسیقی، آلات موسیقی، موسیقی نوازان و نیز رقص اتن نیز در آن پرداخته شده است. طالبان این مضمون را از نصاب درسی حذف و مضمونی بنام تعلمات اسلامی را در نصاب درسی اضافه کرده‌اند و برای تدریس آن، معلم نیز از طرف آنان گماشته می‌شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[24] به گونۀ مثال، برخی از ولسوالی‌های ولایت میدان وردگ.